# سندریز بادونه

عبدالقدیر نادان




## ټول حقوق خوندي دي


سندریز بادونه ....... عبدالقدیر نادانؔ

اشاعت ................ جون 2020 م

ماونین ................. ښنسټ کر عبدالواحد ملنګ او ابراهیم قرار

اهتمام ................. فضل الرحمن فطرتؔ

د چاپ کال ............ جولائي ۲۰۲۰

شمیر ................. پینځه سوه 500

بیعه ................. یو سل پنځوس روپۍ 150

خپرونکي ............ خوږه پښتو ادبي ټولنه نظام پور

د موندلو درکونه!

یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور ښار

خوشحال خټک لائبرېري اکوړه خټک نوښار

شاداب بک ایجنسي کیولري روډ نوښار کینټ

اجمل خټک ادبي ثقافتي جرګه خیر اباد نوښار

خوږه پښتو ادبي ټولنه نظامپور نوښار

پښتو ادبي کاروان نړېوال بهیر وټس اپ

دریاب نیټ او د وټس اپ ګروپونه

# ترون

د امن راوستونکیو شهیدانو پهٔ نوم
چې پهٔ اسلام خپل ځانونه قربانوي
خپلې وینې د اسلام پهٔ لار کښې تویوي،
توئ کړي او تویوي بهٔ!

# ډالۍ

پښتنو پرده دارو میاندو ته
دې ډالۍ وي چې اتلان یې
زیږولي اسلام یې پرې لا روښانه کړے

# لړلیک

01 ........................................ خپلې خبرې
02 ........................................ عبدالواحد ملنګ
03 ........................................ واحد شاه عاجز
04 ........................................ عبدالستار سیحان
05 ........................................ فاروق سالار
06 ........................................ عزیز تراب زاخیلي
07 ........................................ اکرام الله اورکزے
08 ........................................ عبدالقدیر نادان
09 ........................................ فضل الله سنګین
10 ........................................ ظاهر شاه عاجز

11 ............................................ ابراهیم قرار
12 ............................ عرفان شاه بندیوان اورکزے
13 .................................. حبیب الرحمان مظلوم
14 .................................. خاوري اکرم اورکزے
15 .................................. منظور حیات سرفروش
16 ........................................ عابد جان حقیار
17 ................................... شمس الرحمن قریشي
18 ........................................ حبیب الله مجاهد
19 ............................ اسماعیل الرحمان نادان
20 ......................................... سیف الله قلمیار
21 ............................................ عزیز ملنګ
22 ....................................... عبدالوارث افغان

# څېړلې څېړي

ګرانو لوستونکېو !ستاسو په لاسو کښې چې کوم سندریز بادونه نومې کتابګوټے دے دا د پښتو ادبي کاروان د شاعرانو ملګرو د کلامونو مجموعه ده چې عموما ورته خلق تذکره وایي دا هم یاده لرئ چې په اول ځل تذکرې د پاره کتابګوټے لفظ ما استعمال کړے

کله چې ما پام دې خبرې ته را اوګرځېدو چې د پښتو ادبي کاروان بنسټ خو په کال ۲۰۱۸ کښې اېښود ے شوے دے تر دې دمه تذکره نۀ لري نو خپل تجویزونه مې وړاندې کړل د کاروان صلاح کاره ډله )کابینه (پرې را سره متفق شوه پست لۀ هغې مې قلم اوچت کړو دې ځانګړي کار ته مټ ورکولو د پاره ما سره ابراهیم قرار او عبدالواحد ملنګ شانه بشانه اودرېدل د ملګرو کلامونه راغونډول او بیا ما ته راکولو باندې د پاس موصوف او د هغه شاعرانو ملګرو ډېر مننداویه یم چې د خپلو معیاري کلامونو پېرزوینه یې کړې

دغـه ټولـو انتخـاب شـوو کلامونـو نـه د امـلا سـتونزې اېستل ترتیب و تالیف او د پاسه پرې د هر شاعر ملګري لنډه پېژندګلي رقم شوي پۀ دې کتابګوټي کښـې ایلـه د یوویشـت شاعرانو ملګرو پینځۀ پینځۀ کلامونه درج دي۔

ما تر خپله وسه مکمل کوښښ کړے بیا هم کۀ د کـوم ملګري شعري مواد پاتې وي د هغې بخښنه غـواړم یـا خو بـۀ مونږ ته صرف پته راغلي وي او یا صرف کلامونه ولې چې پـۀ کتابګوټي کښې پته او کلامونه دواړه لاژم او ملزوم توکي وو خبرې خو ډېر دي چې اوکړم پـۀ اخر کښـې کـۀ د فطـرت لالا مننه ادا نۀ کړم نو ډېر زیاتے بۀ اوشي ولې چې نن کـۀ د دې کتابګوټي لوستل ممکن دي نو ټوله هڅه راسره هغـوئ کـړې ده.

قدرمندو ملګرو !نور ستاسو او د کتابګوټي تر مینځـه خنـډ نـۀ جـوړېږم پـۀ ښـتنه اوکلیوالـه مینـه مـو د کتـابګوټي لوستو ته رابلم مننه۔

ستاسو د دعا ګانو محتاج

عبدالقدیر نادان

عبدالواحد ملنګ اورکزی

خپل نوم عبدالواحد ، تخلص ملنګ اورکزے
او د پلار نوم حاجي محمد حسین لري موجوده و
مستقل پته تیراه محله قوم ماموزے تپۀ
عبدالراحیم خیل کلے جبه ډاکخانه و تحصیل
غلجو ضلع اورکزي خیبر پښتون خواه

پرون خوب کښې مې لیدلے لوئے عذاب دے
زۀ یې وړے یم پۀ سر کښې خړ سېلاب دے

د شهید لاس کښې مې اولیدل جامونه
راته وئېل یې د شرابو ښکل ثواب دے

ملا جانه د دې خوب تعبیر بۀ څۀ وي؟
پۀ ګوګل کښې مې زړګے کباب کباب دے

لا تر اوسه زۀ پۀ سوچ کښې مبتلا یم
چا را کړے عجیبه غوندې ځواب دے

د ملنګ ممکن کارونه نا ممکن شي
ښکاري دا چې د ملنګ نصیب خراب دے

اوښکې دې پاکې کړه ژړا مه کوه
د بې وفا سره وفا مه کوه

یاره غربت به مخامخ شي درته
د چا غربت پورې خندا مه کوه

غماز دمکي را کوي داسې وايي
ډېر صفتونه د لیلا مه کوه

دا ستا غمونه نور زغملے نه شم
په ما ظلمونه نور اشنا مه کوه

واحد ملنګ په وطن سر ورکوم
د بې ننګۍ ګمان په ما مه کوه

❀✿❀

# نصیحت نامه

غـرور مـهٔ کـوه غـرور بـهٔ درتـه وور شـي
یـهٔ انسانـه جهـنم کنبـې بـهٔ دې کـور شـي

توبــه اوکـړه د ګنـاه نــه لاس پــهٔ سـر شـه
چـې الله درسـره مـل پـهٔ هـره لـور شـي

دیـن اسـلام خبـرې هـر وختـې پکـار وي
کوښښ اوکړه چې اسلام پهٔ جهان خور شي

دې دنیـا نـه هـر سـړے ځـي تـش لاسـونه
څـهٔ خـو یوسـه چـې رڼـا دې اخـر ګـور شـي

یـهٔ ملنګـه ښـهٔ عمـل دې کـهٔ او نـهٔ کـړو
ښـکلے مـخ بـهٔ دې محشـر پـهٔ ورځـې تـور شـي

تـا خـو د اغیـار پـهٔ نامـه ننګ اوکـړو
مـا سـره دې بـې قصـوره جنـګ اوکـړو

دا بـهٔ دې اغیـار تـه سـر ټیـټیے ګنـم
ولـې دې پښـتون بـانـدې غورځنـګ اوکـړو؟

زهٔ دې وار خطـا نیمګـړے پرېښـودم
تـا را نـه پـهٔ نیمـه لار کښـې څنـګ اوکـړو

تـا تـه بـهٔ تـاریخ د پښـتون یـاد شـي خـو!
کلـه یـې چـې مـاتې تـورې شـرنګ اوکـړو

نـورې د غـرور خبـرې مـهٔ کـوه
ګـوره نصـیحت درتـه ملنـګ اوکـړو

✍

د ژونـــد وختونـــه داســـې زر تېـــرېـــږي
لکـــه د ژمـــي مـازیګـــر تېـــرېـــږي

زۀ بـــۀ یـې کـــبر تـــه سـلام کـــوومـــه
زمـــا پـــۀ قـــبر چـې دلـــبر تېـــرېـــږي

پـــۀ کـال کـښې یـــو ځلي را ځي مخې تـــه
ډېـــر ایســاریـــږي نـــه اخـــتر تېـــرېـــږي

جـانـــان نـازونـــه کـــوي مـــا ســـوځوي
پـــۀ دغـــه لاره چـې اکـشـــر تېـــرېـــږي

واحـد ملنـګ ورتـــه حېـران پـــاتې شـــم
بلهـــا غـمونـــه مـې پـــۀ سـر تېـــرېـــږي

❀✿❀

# واحد شاه عاجز

خپل نوم حاجي واحد شاه، تخلص واحد عـاجز اورکـزے او د پـلار نـوم حـاجي کمـین شـاه مرحـوم لري موجوده پته محله ډهوډه روډ چشتیه مسـجد کلے جدید بانډه ډاکخانه ډهـوډه تحصـیل و ضـلع کوهـاټ مسـتقل پتـه محلـه، کلـے، ډاکخانـه او تحصیل غلجو ضلع اورکزي خیبر پښتون خواه۔

✍

شاعر هغه دے همېشه چې غزل خپل جوړوي
نۀ دے شاعر د بل غزل نه چې غزل جوړوي

دا نن صبا شاعري دغسې اسانه شوه چې
دا ځيني بل شاعر کلام باندې بۀ خپل جوړوي

د شاعرۍ ادب خو پوهه لري داسې نۀ دے
د ځينې خلقو نه واقعي لکه پاګل جوړوي

چېرته نعتونه چېرته نورې د دنيا غزلې
سميږي کله کۀ د يو پۀ ځائے څوک سل جوړوي

شاعري دغسې پکار ده چې ثواب دې اوشي
واحد عاجز حمد نعتونه داسې تل جوړوي

❀❀❀

د خپــل ژوند ي نــه يــو کتــاب جــوړوم
پــهٔ کښــې د فکــر لــوئے سـیلاب جــوړوم

چــې اوریــدل یــې دي حــرام پــهٔ مونــږه
بیــا لیونــے یــم چــې ربــاب جــوړوم

پــهٔ دي جهــان مــې څــهٔ جــوړ کــړي نــهٔ دي
محشــر تــه ښــکلــه بــهٔ ځــواب جــوړوم

الله مــې ږیــره کــړلــه سپینــه داســې
ځــان نــه بــهٔ بیــا ښــکلــه شبــاب جــوړوم

واحـــد عـــاجــز الله رضـــا د پـــاره
هــر وخــت شعــرونــه د ثــواب جــوړوم

# دعا

زمــــا عـــــادت پـــهٔ عبـــادت اولیـــکه
داســـې مـــې مـرګ پـــهٔ شـــهادت اولیـــکه

شـــوي غلطـــۍ در نـــــه بخښـــنه غـــواړم
نـــور اوس بـــس مـــا تـــه هـدایـــت اولیـــکه

ســـتا بادشاهـــۍ کښـــې هـــیڅ کمـــے نـهٔ راځـــي
هـــــر مسلمـــــان تـــــه مغفـــــرت اولیـــکه

مـــــونږ یـــو ړانـــدهٔ کاڼـــهٔ هـــیڅ نـــهٔ پـــوهیږو
قیـــــامت پـــهٔ ورځ مـــو ســـهولت اولیـــکه

دنیـــــا مـــــکارې پســـــاؤ کـــــړے یمـــه
بغیـــــر حســــاب را تـــــه جنـــت اولیـــکه

واحـــــد عـــاجـــز تـــا تـــه محتاجـــه یمـــه
زمـــا پـــهٔ حـــال بـــاندې رحمـــت اولیـــکه

# نصیحت نامہ

یــــو نصیحـــت کـــؤم ګـــوزار او نــــۀ کـــړې
رانــــه خفــــه نــــۀ شــــې ازار او نــــۀ کــــړې

مــــا تــــه لــــږ غــــوږ شــــه ښــــو خبــــرې کــــؤم
زۀ درتــــه ســــوال کــــؤم انکــــار او نــــۀ کــــړې
پاتــــې دنیــــا ده اخــــر پاتــــې بــــه شــــي
الله رضــــا کــــوه بــــل کــــار او نــــۀ کــــړې
چــې ستــا پــۀ وس کښــې نــۀ وي نــۀ شــې کــوے
هغــــې خبــــرې کښــــې اقــــرار او نــــۀ کــــړې
کــــۀ د جنــــت د رنګینیــــو شــــي خبــــر
بیــا پــۀ دنیــا کښــې بــۀ سینــګار او نــۀ کــړې
کلــــه هیچــــا تــــه ضــــرر مــــۀ رســــوه
کــوه ښېګــړه خــو چــې شمــار او نــۀ کــړې

واحــــد عــــاجــــز درتــــه اخــــر کښــــې وایــــم
تېــــزه خبــــره پــــۀ مــــور پــــلار او نــــۀ کــــړې

❁❁❁

ستا محبت کښې پوخ ایمان دے زما
پۀ حقیقت دغه بیان دے زما

ستا جدایۍ کښې لکه شمع سوځم
پۀ دغه حال باندې ګوزران دے زما

چې پاک الله دے نازل کړے پۀ تا
هغه کتاب ښکلے قران دے زما

زۀ یې قربان د پاکې مینې شمه
هغه د هر چا قدردان دے زما

کۀ زۀ واحد عاجز تر څو ژوندے یم
اخر منزل پۀ قبرستان دے زما

## مولوي عبدالستار سیحان

خپل نوم مولوي عبدالستار، تخلص سیحان قندهارے او د پلار نوم حاجي رحیم الدین مرحوم لري موجوده پته محله نورزئ کلے پوټي کچلاک ډاکخانه کچلاک تحصیل بوستان ضلع پشین کوېټه بلوچستان مستقل پته محله حاجي صمد خان کلے چشمو ډاکخانه و تحصیل مېوند ضلع قندهار۔

پۀ تصور تصویر د یار جوړوم
غزل لیکم تري یار ته هار جوړوم

عمر مې ټول پۀ نا قراره تېر شو
نور د سکون غېږ کښې قرار جوړوم

زۀ د خلیل پۀ قدم ږدمه قدم
ځکه سُور وور ځان ته ګلزار جوړوم

تنکۍ سینه توري ته سپر نیسمه
تل وړاندې ځم حدف ته لار جوړوم

چې مې درمل شي جوړ ناسور زخم ته
طبیب بۀ مُومم سور پرهار جوړوم

که پۀ مزلونو مې تنهاکي شي پېښې
ځمه سیحانه یو یادګار جوړوم

چې پۀ مئين زړۀ مې غمـــونه د اشنا را تـاو شـي
لکه پۀ ښکلي دنګ چينــار چې اژدها را تـاو شـي

د هجــــــــر تــورې بلاګــانې مــې ښــۀ سـم زوروي
راځنــي اخ نـا اميـــــــــــــدي د تمنـا را تـاو شــي

ستا نمريز حسن لېونے کړم پۀ مـــا خولې لګوي
خو لـۀ نيمګـــړي ژوندانۀ نـه مې ښکلا را تـاو شـي

عاشـقان تـول کـوي بيـــان ســتا د بـې مثـل جمـال
چـې لـۀ فکـــرونو لـۀ خيـالونو يـې ادا را تـاو شــي

داسې هجوم راوړي ستـــا يـاد ځـار پـۀ مئينو زړونـو
لکـه حجـان چـې پـۀ مـردار او پـۀ صـفا را تـاو شـي

داسې بۀ برېښي پۀ عـالم کښې د سيحان شاعـــري
لکه پۀ شپه کښې رانۀ ستــــوري لۀ سما را تاو شي

عشــقه در ځــم غــاړه در ورم ګــوره تــر داره پــورې
ســتونزې ګــالم تــا رســوم تــر خپــل نګــاره پــورې

مينــه کښــې دومــره لېــونے يم چــې مثــال نــۀ لــرم
ځــان ســوځوم پــۀ وور در ځــم تــر ســرۀ انګــاره پــورې

يــاره غمـــــونه دې اوس ډېــر دي د زغملــو نــۀ دي
زۀ ژړېــدم چــې بــۀ در تلــم ســتا تــر مـــزاره پــورې

مينــې هــر خــومره خزانونــه ســتا پــۀ ســر کــۀ راځــي
نــۀ دې پرېــږدم تــا ور ولــم نــور تـــــر بهــاره پــورې

کــۀ د وحشــت پــۀ تــاريکېو کښــې را نــه ورکــه يې اوس
پيــدا کــوم دې خلاصــوم دې تـــر ســحاره پــورې

ســيحان لوســتلي د عشــاق صــفحې بــې حــده ډېرې
تـــا خپلــوم نــور نــۀ کښــېنم بيـــا تــر قــراره پــورې

❀✿❀

ستا پـهٔ نیمګـړو تصـویرو بانـدې غـــزل جـوړوم
اخ څوانیمرګـه سـتا یـادو بانـدې غـــزل جـوړوم

سـتا افسـانې مخـې تـه را وړم د منقـوش پـهٔ شـکل
را کـړي دردونـه هـا 1دردو بانـدې غـــزل جـوړوم

قلنـــــدري ملنګـان ټـول دي دعـوي ګیـر د سـتا
چـې پـهٔ مَلاخـم در ځـي هغـو بانـدې غـــزل جـوړوم

پـهٔ داودي تــرنم زړهٔ چــې لــهٔ ګوګلـه بــــاسي
پـهٔ داسـې مســتو اوازو بانــدې غــــزل جـوړوم

را وړم لفظونـه ښـکلي ښـکلي ستـــا لـهٔ پـاره يـاره
نـور دې د حســـن پـهٔ شـغلو بانـدې غـزل جـوړوم

د خدائے رضا چې پکښې ښښتي وي سیحانه ګورے؟
پـهٔ شرنګهــــــار د زولنـو بانـدې غـزل جـوړوم

1، ها :هغه

# قطعه

لاړ شـه قـــــرانه شـــکایت رســـول الله تـــه کـــوه
اوس پـــاڼي پـــاڼي يـــې نګـــاره رژېـــدلې ښـــکارې

لکـه چـې بيـا دې شـول پـۀ زړۀ باندې تـازه يادونـه
ځمـا د شـهيـــــد فـدايي پـلاره ژړېـدلې ښـکارې

بُلْبُلَه اوس پـۀ صـبحدم کښـې چونـه هـار نـۀ کـوې؟
پـۀ څـۀ خفـه شـوې لـۀ ګلـزاره زورېـدلې ښـکارې؟

پـرون خـو بُوخُـت لـۀ همزولـو سـره لـوبې دې کـړې
يتيمـه نـن بيـا نـا قـــــــراره کړېـدلې ښـکارې

درتـه لـوګې سـپينه مـاڼۍ او واشـنګټن واړه شـه
يـۀ د سيحـــان د عفـت ښـاره دودوهلـې ښـکارې

❀❀❀

## فاروق خان سالار

خپل نوم فـاروق خـان، تخلص سـالار او د پـلار نـوم اکبـر خـان لـري موجـوده و مسـتقل پتـه محلـه جهاړه کورونه کلے و ډاکخانـه عمـرزي تحصـيل و ضلع چارسده خيبر پښتون خواه۔

پــهٔ زلــــزله وبــا او ډېـــرو سېـــلابونو بانــــدې
تــوبه مــو او نــهٔ کـړه پـهٔ دومــره عــذابونو بانــدې

خــپله درنــه وایــي د بـل سپـکو خبـر نـهٔ دي چــې!
غیبـــت وورونـــه لګـــوي پـــهٔ ثـــوابونو بانـــدې

د خپل ارمـان طوفـان مې راشـي را لـهٔ غرقـه یې کړي
کـــشتۍ روانـــه د امیـــد کــړم دریـــابونو بانــدې

مــستۍ لـهٔ اوخـښي نو بیـا هسـې یو بهانـه جـوړوي
د جـــانان غـــم کلـــه کمیـــږي شـــرابونو بانـــدې

نـــشته واکـــدار سـره زمـــونږه د ســـوالونو ځــواب
ځکــه مــو وژنـــي پـــهٔ طلـــب د ځـــوابونو بانــدې

لسم ټولـګي کښې کـهٔ ستـا یـاد وي بـې وفـا جانـانه
نــوم بـهٔ ستـا لیـک وهٔ د ســالار پـهٔ کـتابونو بانـــدې

ثنــا صـفت تـل د احـد کـوه سـم حـد پـرې کــوه
ذکــر د اللهُ الصـمد کــوه سـم حـــد پـــرې کــوه

هــر نېـك عمـل کـوه خـالص د پـاك الله د پـاره
پـهٔ لاره تـګ د محمـد کــوه سـم حـد پـرې کــوه
پـــهٔ نرمـــه ژبــه د جنــت تعريــف کــوه صـــاحبه!
بيان ښهٔ سخت د تـور لحـد کـوه سـم حد پرې کـوه
چــې د کعــبې طـواف کـوې نـو ور سـره ښـکلــول
د مــعزز حجـر اسـود کـوه سـم حـد پـرې کــوه
څـهٔ له پيدا دے څهٔ له راغـے دې دنيا تـه انسـان؟
مـلا قيـصه يـې د امـد کـوه سـم حـد پـرې کـوه
چـې څوك کړي بد ور سره ښهٔ کوه دا چا وئيلي
چـې تـهٔ د بـد پهٔ بـدل بـد کـوه سـم حد پـرې کـوه

حقــيقي ډېـر ښـهٔ دي سـالاره مجــازي هـم ښـهٔ دي
د کفــريه شعــرونو رد کــوه ســم حــد پــرې کــوه

❀❀❀

دیدن ته به مې هر یو وي لېوال په تماشه
ولاړ چې وي تول ما ته کلیوال په تماشه

ښا پست نه دي جانانه کوه قاف د ے خبر شوے
را تول شو ښاپیري ستا د جمال په تماشه

په منډه منډه در شي او تا ښکل کړي بختور
زه ځان ته شم په خپله د خپل خیال په تماشه

کتل به مې چې کله ستا د غونډې زنې خال ته
بس تللم به په سوچ کښې د یو لال په تماشه

سالاره په غزلو کښې دي نوے رنګ راوړے
حیران دي کړل خپل ځان ته مینوال په تماشه

✍

پـهٔ مـات وزر بانــدې پـرواز لکـــه د بـــاز کـــوومه
ســختو حــالاتو کښــې د نـوي ژونـد اغـــاز کــوومه

اخـــر تر کومې بهٔ خپل ځــان دهــوکه کؤم پهٔ خپلـه
اخـر تــر څــو پـــورې بــهٔ مینــه د مجــاز کــــوومه

کــهٔ محــبــت کښــې تــر منصــور د حالــه اورسـېدم
نــو بيــا د دار پــهٔ ســر بــهٔ هــم د حـــق اواز کــوومه

نــرم مــزاج د ګــل نــازک ګرځـې پــهٔ نـــاز او مکېــز
صــــفت د يــار بــهٔ درتــه زهٔ د کــوم انــداز کـــوومه

فـــاروق ســـالار يــم چــې څــهٔ لــيکم حقيقـت ليــکمه
د شــعر پــهٔ ژبــه کښــې قيصــې د راز او نيــاز کوومــه

❀ ✿ ❀

خوبونــه مــې لــهٔ سترګــو تښــتوي مــا ژړوي
یــادونه دې پــهٔ نیمــه شــپه را ځــي مــا ژړوي

جانانــه غــم دې دومــره زورور د ے هــره شــپه
ګریــوان را لــه پــهٔ اوښــکو لونــدوي مــا ژړوي

یــو ځــو هــوس پرســت د معاشــرې د بــاغیچې نــه
تــــازه تــــازه ګلــــونه رژوي مــــا ژړوي

لــهٔ قــصده چــې جانــان مــې شــي رقیــب سره روان
وورونــه پــهٔ زړګــي مــې بلــوي مــا ژړوي

سپرلے پهٔ وطن راغے سیمه ګل شوه تهٔ رانهٔ غلې
ســــالاره بــې لــهٔ تــا دا پسرلــي مــا ژړوي

# عزیز تراب زاخیلي

خپل نوم عزیز الرحمن، تخلص تراب زاخیلي او د پلار نوم حضرت ګل شاهین مرحوم لري موجوده پته محله خانان کلے و ډاکخانه وېسه تحصیل حضرو ضلع اټک پنجاب مستقل پته محله چارسو بازار کلے و ډاکخانه ازاخیل پایان تحصیل و ضلع نوښار خیبر پښتونخواه۔

لکــه زهــر یــې ګنـډه پر کــړې مطمــئن یــې ؟
ژونـد بـهٔ تېـر زمـا پـهٔ څېـر کـړې مطمـئن یـې ؟

جامــه څښبــم دې خـــو وعـــده راســره اوکـــړه
د چـا غـم بـهٔ رانـه هېـر کـړې مطمـئن یـې؟

لکــه نمــر بــهٔ پــهٔ اســمان کښــې ځلنــده شــې
خـو دا ځـان کـهٔ چرتـه زېـر کـړې مطمـئن یـې ؟

پـهٔ نفـرت بانـدې بـهٔ خـاورې خـود انبـار شـې
خــوره مینــه کــهٔ چـاپېر کــړې مطمــئن یــې ؟

کــهٔ زلفــان خـــوارهٔ وارهٔ دې پـــهٔ جبـــین کـــړل
خپـل عزیـز بـهٔ پکښـې ګېـر کـړې مطمـئن یـې ؟

ساقي ستا د لاس پيالۍ ته مې زړۀ کيږي
خپله غېږه کښې مستۍ ته مې زړۀ کيږي

که هر څو پکښې د سر و مال تاوان دے
خو ستا عشق کښې جوارۍ ته مې زړۀ کيږي

دا پيريان را باندې کله کله راشي
کله کله شاعرۍ ته مې زړۀ کيږي

هغه مينه پخوانۍ خو ليونتوب وۀ
هغې مينې پخوانۍ ته مې زړۀ کيږي

پۀ يو ان کښې سړے څومره مشهور شي
کله کله رسوايۍ ته مې زړۀ کيږي

ما عزيز پرې زړۀ بائيللے دے ملګرو
د بلال صيب شاګردۍ ته مې زړۀ کيږي

څـهٔ پـهٔ کښـې ګـورې ښـکته بـره د نظـره بـهٔ شـې
پـــهٔ ائينـــه مئـــين ځيګـــره د نظـــره بـــهٔ شـــې

ستـا پـهٔ ښا ېسـت بانـدې رنګونـه د حيـا خـوارهٔ دي
نقـاب پـهٔ سـر کـړه د زړهٔ سـره د نظـره بـهٔ شـې
دا نايـــابي ادا لـــهٔ بعضـــې خلقـــو پټـــه ســـاته
هـــر چاتـــه مـــهٔ خانـــده دلبـــره د نظـــره بـــهٔ شـــې
تـا تـه چـې يـو نظـر کاتـهٔ اوکـړي فـدا شـي پـهٔ تـا
ګـرځـــوم ځکـــه دې پـــهٔ يـــره د نظـــره بـــهٔ شـــې
داسـې د پنجـو پـهٔ سـرونو بانـدې ولـې ګـرځـې؟
دنيـــا دې ټولـــه کـــړه اوتـــره د نظـــره بـــهٔ شـــې
دا بـــې روخـــي دې پـــهٔ مـــخ لا رنګونـــه اوځلـــوي
بـــس را پخـــلا شـــه مـــروره د نظـــره بـــهٔ شـــې

يـو خـوا مسـکا بـل خـوا د سـترګو غلچکو چلونـه
ځـــار شـــم عزيـــز لـــهٔ دې منظـــره د نظـــره بـــهٔ شـــې

د کــور خبــرې تــل ډنګــر پــۀ دېوالونــو لیکــي
دوئ د حیــا هــر یــو منظــر پــۀ دېوالونــو لیکــي

دلته کښې هر څوک فرښته ده د ګناه نه پاک دے
خــو دوئ د بــل خــامۍ بهــر پــۀ دېوالونــو لیکــي

زمــونږ د ښــار د فلســفیانو ســره پــاڼې نشــته
د کــار خبــرې دوئ اکثــر پــۀ دېوالونــو لیکــي

د هــر تنظــیم د کارکنــانو د زړۀ دومــره زور دے
ســل القابــات د خپــل رهبــر پــۀ دېوالونــو لیکــي

بــې ذوقــه خلقــو تــه عزیــزه خپــل کــلام پــیش کــؤل
لکــه غــزل څــوک د کنــډر پــۀ دېوالونــو لیکــي

❀❀❀

ساتلي دي كورونو كښې هر چا ادم خوارهٔ
بهر لارو کوڅو کښې دي بلها ادم خوارهٔ

تاريخ د هلاکو او چنګېز خان قيصې کړې هېرې
چې وې ليدل د دې دؤر رسوا ادم خوارهٔ

د وينو او د غوښو د انسان سوداګرانو
نيولي ځان د پاره دي هر خوا ادم خوارهٔ

ګيله بهٔ چا ته اوکړو احتجاج بهٔ چاته اوکړو
مونږ دلته کښې دي پريښي پهٔ رضا ادم خوارهٔ

عزيزه دغې چم نه د زړا اواز راخيژي
عزيزه دغې چم کښې وو بيګا ادم خوارهٔ

❀✿❀

# اکرام الله اورکزے

خپل نوم اکرام الله، تخلص اورکزے او د پلار نوم ګل جب خان لري موجوده پته محله سپین جومات کلے همېش ګل بانډه ډاکخانه و تحصیل جرمه ضلع کوهاټ مستقل پته محله و کلے وړی ډاکخانه غلجو تحصیل و ضلع اورکزي خېبر پښتون خواه پاکستان۔

شــمله ور دي ازمریــان دي پــهٔ مــا ګــران دي
ننګیــالي زمــونږ مشــران دي پــهٔ مــا ګــران دي

پښــتون خــواه ور بــاندې تـولــه ښــکلي ښــکاري
پــهٔ نقشــه د بــاچا خــان دي پــهٔ مــا ګــران دي

دغــــه هــــم پـــهٔ قـــام مئـین د سَـــره تېـــر دي
دغــه هــم زمــا پـــهٔ شــان دي پــهٔ مــا ګــران دي

دا چـــې امـــن امـــن وایـــي صـلحــــه غــــواړي
دغــــه واړه افغانــــان دي پــــهٔ مــــا ګــــران دي

دا چـــی زهٔ ورتـــه د زړهٔ پـــهٔ سترګـــو ګـــورم
دا زمــــا خـــوارهٔ یـــاران دي پـــهٔ مـــا ګـــران دي

دا ستا حسن تباهي وه
ما قسمت کښې جدايي وه

څۀ نشه د مازيګر وه
څۀ نشه د ماښامي وه

هلته مينه محبت وۀ
هلته هم باچا خاني وه

دا مې خپله خوښه نۀ وه
دا خبره د زړګي وه

پۀ غمونو کې شوه تېره
د اکرام څۀ زندګي وه

خبــــره ســــرې عـــــام کـــؤم
ښـــکلو تـــــه ســـلام کـــؤم

څـــوک مـــې د قـــام غـــم کـــوي
زۀ يـــــې احتـــــــرام کـــؤم

لـــږ کـــۀ مـــې يـــار غـــم پرېـــږدي
لـــږ غـــونــــدې ارام کـــؤم

نـــن مـــې زړګـــے ښـــۀ نـــۀ دے
نـــن قيصــــه د جـــام کـــؤم

نـــور صـــبر مـــې نـــۀ کيـــږي
نـــن ديـــدن ماښـــام کـــؤم

تـــور دے مينــــه نـــاک دے يـــار
مينـــــه يـــې اکـــرام کـــؤم

❀✿❀

✍

بـــل تـــه دې انکـــار اوکـــړو
مـــا تـــه دې اظهـــار اوکـــړو

تـــول عمـــر بـــهٔ یـــاد ســـاتم
تـــا چـــې افتخـــار اوکـــړو

اوس دې منـــــــــم اشنـــــــــا
تـــا ډېـــر انتظـــار اوکـــړو

تولـــو ســـترګې تیتـــې کـــړې
تـــا د غېـــرت کـــار اوکـــړو

ستـــا اکـــرام لـــهٔ تـــا نـــه ځـــار
تـــا چـــې پـــرې تلـــوار اوکـــړو

❀❀❀

دغــــه تــول خپــل بــۀ زمــا شـــي
چـــې پيســــــه راشخــــــه را شـــــي

چـــار چـــاپېر بـــۀ تـــري نـــه تـــاو وي
چـــې غريـــب شـــي نـــو تنهـــا شـــي

چـــې غريـــب وي نـــو بـــۀ څـــۀ وي
بــــس د خلقــــــو د خنـــــدا شـــــي

مئـــــين ور بانـــــدې تـــــول دي
پـــۀ نصـــيب کښـــې بـــۀ د چـــا شـــي

د اکــــــرام اورکــــــزي زړۀ تــــــه
چـــې څـــوک راشـــي نـــو بادشـــا شـــي

# عبدالقدیر نادان

زۀ خپل نوم عبدالقدیر، تخلص نادان المعروف نادان ختک او د پلار نوم سید حیات الله شاه مرحوم لرم موجوده و مستقل پته محله سادات کلے چارپاڼې ډاکخانه خیراباد علاقه نظامپور تحصیل جهانگیرے ضلع نوښار خیبر پښتون خواه

ادبي تړون خوږه پښتو ادبي ټولنه نظام پور۔

ستا پهٔ غم کښې مې جانانه ښه يې وينې
زندګـــــي ده ډېره ګرانه ښه يې وينې

تهٔ پـــهٔ حسن بـــــاندې ولې کړې دلبره؟
پـــهٔ لـويې بهٔ شې ستومانه ښه يې وينې

ستا زمـــا سره رشتې خبر يې څو وې؟
مينـــې هم د وينـــې ورانه ښه يې وينې

آ بـهٔ زهٔ چې ښـــاروال ستـا د کـــوڅې وم
ستا غوښتنــــه وه پرېمانه ښه يې وينې

مـا قـدير بـاندې دې هېڅ رحم او نهٔ کړو
د پـرهـــر قيصـه روانــــه ښه يې وينې

د ارواښاد خاطر افریدي صېب پۀ بېت زما د طرحې لیک

جـــوړ وي مـــا بانـــدې بـــۀ ځلـــے زۀ بـــۀ مـــړ یـــم
"تـــۀ بـــۀ ګرځـــې هســـې ښکلـــے زۀ بـــۀ مـــړ یـــم"

یـــا پـــۀ خـــود یـــم پېـــژنـــدے دې شـــم دلبـــــره
کـــاش چـــې اوس وے لـــږ راغلـــے زۀ بـــۀ مـــړ یـــم
شـــي لایـــا ستاســـو د چـــم درتـــه کوڅـــې بـــۀ
مانـــــه روح بـــۀ وي ختلـــــے زۀ بـــۀ مـــــړ یـــم
جنـــازې تـــه بـــۀ مـــې ګـــورې چـــې ښکارېــــــږم
پـــس سلګېـــو بـــۀ وې نیولـــے زۀ بـــۀ مـــړ یـــم
نیمګـــــړي خوبونـــه بـــۀ پـــۀ خیـــال کښـــې زمـــا
بـــې تعبیـــــره شـــې لیدلـــے زۀ بـــۀ مـــــړ یـــم
ارمـــانونـــــه بـــــۀ یـــې زړۀ زرې زرې کـــــړي
نـــل تـــه چـــا ګنـــے وئیلـــے زۀ بـــۀ مـــړ یـــم؟

یـــۀ نـــادانه د نـــــادان مینــــه دې اوکـــړه!
ځـــان پـــۀ خپلـــه ځـــان سېځلـــے زۀ بـــۀ مـــړ یـــم

اول مــــــــې د خيــالونو نــه تارونــه ســازوم
بيـا يــار تـه د لفظونـو نـــــه هارونه سـازوم

زمـا د زړۀ پـۀ بـــــورجلونو بـۀ دمـې کـــوي
کلـک يـار تـه د مينـې مهــــــــارونه سـازوم

پۀ قوت د کلـــــيوال بادونو رنګ بـۀ راوړي
نـړۍ کښـې بـۀ د امـــــن نـه ښـارونه سـازوم

ډک چـــې د کمـالـه وي او زيات شي ديدنونه
کۀ هسـې د يـار چـم کښـې بنـــډارونه سـازوم

زۀ عبدالقـدير ورتـه افسـون د زړګـي وايـــم
ارزو مـې ده !يـار خـولۀ کښـې اقرارونه سـازوم

ځه بس ورځه
مخه دې ښه

ځار شمه ځار
رب دې لره
شي به نه ناکام
مه کړه وعده
چې څوک به وي
او څوک به نه
هغه مهال
کړو به قیصه
تېره چې شي
د خیره شپه

اوس دې بخښم
نادان بخښه

# د اروابناد خاطر افریدي صیب پهٔ بیت زما د طرحې لیک

"پـهٔ ارمـان د نـادانۍ شـي چـې هوښـیار شـي"
سـړے داسـې د فکرونـو تهېکـدار شـي

تـا مـې اوښکو سره اوښکې ګډې نـهٔ کـړې
زمـا ، سـتا پـهٔ انتظـار 1ولـې قطـار شـي

مجـاهد یـې مسـلمان یـې خـو کـافر یـې
دا کښېدے نـهٔ شـي اسـلام چې نګونسـار شـي

محبـت کښـې ښـکته تـورے پورتـه کیـږي
یقینـي ده چـې پـاک رب دې مـددګار شـي

بـل بـهٔ نـهٔ وي مـا قـدیر غونـدې نـادان څـوک
یـهٔ جلبـل چـې سـتا د حسـن پـهٔ انګـار شـي

1،ولې :لښتے

## فضل الله سنګین

خپل نوم فضل الله، تخلص سنګین او د پلار نوم سید امیر جان لري موجوده و مستقل پته محله ننګرهار کلے کودي خېل ډاکخانه شېرزاد تحصیل حقوق څارندوالي ضلع ګندومک کابل

چې بغـاوت مـو پـهٔ زړهٔ راج کـوي خوځښـت اوباســي
مينه بهٔ ځــــنګه زمــوږ زړونـو کښـې ارزښـت اوباســي

فــال ګـر لالـے راتــه د وخـــــت ســـره فـــرېب را کـــوي
د لاس پــهٔ کــــرښو مـــــې خبــرې د نوښـت اوباســـــي

ميـــنه قاتــــله ده او ميـــــنه مــــو د دار سبـــب د ے
بـېخ د ځــوانۍ اوباسي شـور مـو لـهٔ زړښـت اوبــاسي

د زړهٔ پـــــهٔ دښـته مـــې زړګـے د زور اوبـهٔ اوبـهٔ شـــو
د اوښـکو زور مـې د ګرېـوان پـهٔ سيمه کښـت اوباسـي

د ځـــــينو خـــــلقو يارانــه ســـنګينه نــهٔ وي پــــــکار
ســړے ســـړے نهٔ وي ســـړے بـهٔ لـهٔ درنښـت اوباسـي

د سور نغمې چې په رباب کېږي نه وي
لکه چې توري په کتاب کېږي نه وي

هره لمحه دې د ژوندون حساب شي
د ځوانۍ عمر دې حساب کېږي نه وي

د بې وسۍ عذاب نه خوند اخلمه
خبر که خوندونه په عذاب کېږي نه وي

لکه زما د زړهٔ په باب کېږي چې دي
دومره غمونه به بل باب کېږي نه وي

سنګينه بيا خو هيڅ معني نه لري
که زخمتونه په ثواب کېږي نه وي

خـــپل قســمت و اب دانــه راپســي ګـرځـــي
خـــدایه شـــکر غیبانـــه راپـــسي ګـرځـــي

تصــور مـــي پـــهٔ دادونـــو بانـــدي لمانـــځي
د چـــــم خـــــلق اشـــیانه راپســـي ګـرځـــي
غــم مــي زړهٔ کښــي د غـــم ځـالي جـوړي کـــړي
ســـــوچ او فکــــر د یـــــوانه راپســـي ګـرځـــي
مـــړ ضـــمیر مـــي د پیغـــور پـــهٔ کـــانـــو ولـــي
تیـــــره شـــــوي زمانـــــه راپســـي ګـرځـــي
ځـــهٔ دلیـــل د حادثـــي ګـــوري رادرومــــي؟
مـــــرګ پــــهٔ تشــه بــــهانه راپســـي ګـــرځي
وایـــــي مـــونږ لـــهٔ د ګـلونـــو ګیـــډۍ واخـــله
یـــو ځـــو ښــکلي نازدانــه راپســـي ګـــرځـــي

یـار مـي کلـک پـهٔ غیږ کښـي واخسـتو سـنګینه
رقـــیبان دي نـــــظرانه راپـــسي ګـــــــرځي

تـــا كـــــئ د ســـتم دروازۀ وازه كـــــړه
مـــا خـــپله ســـينه ورتـــه درازه كـــــړه

چـــا د چـــا د زړۀ لـــئ كـــوره لـــوټ كړلـــه
چـــا د چـــا د زړۀ كـــور كښـــي ښـــېرازه كـــړه

تـــا پـــۀ كښـــي خنـــده او مـــا ژړا اوكـــړه
مـــا مـــينه فـــنكاره تـــا اســـتازه كـــړه

راشـــه تـــصوره څـــۀ خـــو اوليكـــه
عقـــل مـــي د مينـــي دنيـــا ســـازه كـــړه

هغـــه څـــۀ لمحـــه ســـنګينه تېـــره شـــوه
ښـــكلي چـــي قيصـــه درتـــه لـــۀ نـــازه كـــړه

کلـه زیـات او کلـه کـم مـــې زړۀ خـــوږیږي
مګـــر کلـــه کلـــه ســم مــــې زړۀ خــــوږیږي

سـتا لـۀ غمـه د یـار غــمه سـتا پـۀ غـــم کښـې
ښــۀ بـــې غمـــه دم پـــۀ دم مـــې زړۀ خــــوږیږي

چـــې دې اووینمـــه درد مـــې زړګـــــے نیســــي
چــــې دې نــۀ وینمـــه هـــم مـــې زړۀ خـــوږیږي

یـــو چـــې لـــږه خــــوشحالي رابانـــدې راشـــي
بیـــا نـــو یـــاره څــۀ مـــبهم مـــې زړۀ خـــوږیږي

د زړۀ درد مـــې یـــو رقـــــم نـــۀ دے ســـنګینه
پـــۀ رقـــم رقـــم رقـــم مــــــې زړۀ خـــــوږیږي

# ظاهر شاه عاجز

خپل نوم ظاهر شاه، تخلص عاجز او د پلار نوم عمر ګل لري موجوده و مستقل پته محله و ډاکخانه سر ډهیري کلے حضرت میا کلے تحصیل و ضلع چارسده خیبر پښتون خواه

ملګـــرو درد مـــې د زړۀ ســـر تـــه رســـي
چـــې نقصـــان کلـــه پېښـــور تـــه رســـي

پښـــتون کـــۀ ډېـــر د امـــن چغـــې وهـــي
دغـــه خـــبره اکـــثر شـــر تـــه رســـي

چرتـــه پـــۀ نـــور چـــا بانـــدې هـــم راغـــلئ
کـــۀ جنـــګ زمـــونږه هـــر يـــو در تـــه رســـي

عاجـــز خـــو ليکـــې د مطلـــب شـــعرونه
خـــو کلـــه کلـــه د يـــار ور تـــه رســـي

غــــــریبي ده بـــــــي وســــــي ده
زمـــــــونږ دغــــــه زنـــــــدګي ده

نـــۀ جـــــاروځم خپــــل عـــــادت نـــــه
خپـــــل عــــادت خــــو مجبـــوري ده

ستــــا پــــۀ کلـــي وطـــــن ژوند دے
زمـــــــا ژونـــــــد مســـــــافري ده

لـــۀ یـــو بـــل نـــــه نـــــا خبـــر یـــو
زمـــــونږ څــــۀ خوشـــي یــــــاري ده

زۀ د خــــــدائے عــــاجز بنــــده یـــم
زمـــــــا دا خـــــــوش نصــــــیبي ده

حسین مې دین د ے زۀ پرې ښکلے یمه
زۀ مسلمان یمه ښاغلے یم

دا چې خپېړې د اغیارو خورمه
د خپل منصب په بله تللے یم

رقیبه زۀ دې په چل ښۀ پوهېږم
د چا خاطر کړمه چې غلے یمه

زما د پت او د پښتو کړي صفت
چا چې په دې باب کښې کتلے یمه

عاجز د دین او د وطن د پاره
د خپله سره تېروتلے یمه

❀✿❀

مـــــينه او محبــــت كـــوه
خـــو دا پـــهٔ صــــداقت كـــوه

پـــهٔ خپلــه كـــهٔ عـــزت غـــوارې
د خلقـــو ښـــهٔ عـــــزت كـــوه

چـــې شـــي در نـــه الله رضـــا
د زړهٔ نـــه عــــبادت كـــوه

د دې دروغـــو څـــهٔ غـــوارې؟
د دې نـــه لـــرې نفـــرت كـــوه

عـــاجزه چـــې خبـــره كـــړې
عـــاجزه د عبـــرت كـــوه

د دردہ چغې کړم چې څړیکې مې ځیګر ته رسي
زمونږ د مینې قیصې سر اوخوري چې سر ته رسي

منمه هر ځائے کښې به ښکلي ډېر بې شانه وي خو
حسن کښې چرته زمونږ ښکلي پېښور ته رسي

چې مصیبت را ځي په ټوله پښتون خواه کښې راځي
بیا پښتون خواه کښې چارچاپېره لر او بر ته رسي

سترګې مې ګوره ټوله شپه کښې پټې کړې نهٔ دي
اوس شوګیره مې اوږده شوي ده سحر ته رسي

عاجز خو لیکي په حالاتو د مطلب شعرونه
چې لږ هوښیار شي نو په خپله به دلبر ته رسي

## محمد ابراهیم قرار

خپل نوم محمد ابراهیم، تخلص قرار او د پلار نوم اشرف علي لري موجوده و مستقل پته محله ادم زۍ کلے و ډاکخانه جلبۍ تحصیل لاهور ضلع صوابۍ خیبر پښتون خواه

زۀ دې رټلـــــے پــۀ ماښــام کښـــې ومـــه
څــۀ داســې شــوے پــۀ انجــام کښـــې ومــه

زمـــا پــۀ کلـي کښــې وې تــۀ خــوښ ګرانــه
چـــې زۀ مئینــه پــۀ تــا قـــام کښـــې ومــه

د هـــــره کـــــوره دا اواز بـــــۀ راتـــــلو
چـــې ســـتا د لاســه پــۀ الــزام کښـــې ومــه

چـــې مـــې دیـــدن تـــه وۀ راغـــلـــے قـــرار
ورتـــه ولاړه بـــۀ یـــو ګــام کـښـــې ومـــه

❀✿❀

چې اشنا نه مرور يم
نو لۀ ځانه مرور يم

کۀ دنيا تهوله د سرو شي
خو دنيا نه مرور يم

يو ارمان مې پوره نۀ شو
لۀ ارمانه مرور يم

پۀ ژړا باندې مئين يم
لۀ خندا نه مرور يم

زۀ يې نوم اخستے نۀ شم
چې لۀ چا نه مرور يم

زۀ قرار دې لېونے کړم
ياره ستا نه مروريم

زۀ دې ګـــل تـــــۀ مـــې پتنـــګ شـــه
خوشـــبو جـــوړه کـــړه لونـــګ شـــه

زۀ مالـــــيار در تــــــــه ولاړ يــــــم
تـــۀ د ســــور ګـــلاب پـــۀ رنـــګ شـــه

تـــۀ مـــــې پيـــر زۀ دې مريـــد يـــم
زۀ کچکـــول تـــۀ مـــې ملنـــګ شـــه

زۀ بـــــۀ ګــــورم ائينــــــه کـــــښې
تـــۀ لـــۀ ځـــان ســـره پـــۀ جنـــګ شـــه

زۀ قــــرار يــــې خبنـــم پـــۀ لپـــو
تـــۀ نـشـــه را تــــــه د بنـــګ شـــه

کـــهٔ د یـــار ښــکلے دیــدار زمـــا نصـــیب شـــو
بـــس خـــو بیـــا واړه ګلـــزار زمـــا نصـــیب شـــو

زمـــــا ټـــول عمـــر ارمـــــان بـــهٔ شـــي تـــر ســـره
کـــهٔ یـــو ځـــل هغـــه دلـــدار زمـــا نصـــیب شـــو

د خپـــــل زړهٔ پرهـــــر بـــــهٔ اوګنـــــډم پـــــهٔ خپلـــــه
کـــهٔ نبـــي د زلـفـــو تـــار زمـــا نصـــیب شـــو

چـــي قـــران یـــي پـــهٔ اول ځـــل وهٔ لوســـتلے
کـــهٔ د هغـــي خـــولي ګفتـــار زمـــا نصـــیب شـــو

زهٔ قـــــرار د پـــــاک الله نـــــه دا دعـــــا کـــــړم
کـــهٔ چکـــر د یثـــرب ښـــار زمـــا نصـــیب شـــو

❁ ✿ ❁

پـهٔ تکـه تـوره شـپه کـبنـبې د خپـل ځـان سـره خبـرې
یـا اوګـوري اسـمـان ته کـړي اسـمان سـره خبـرې

دا خـلـق خـو نـا پـوهه دي دوئ کـلـه بـهٔ پـوهیږي
د یـو بـل ګـرېـوان نیسـي کـړي ګـریـوان سـره خبـرې

پـهٔ دغـې تـرې خفـه شـم چـې بچـے بچـے مـې وژنـي
ظـالـم چـې پـهٔ ټـوپـک کـړي مسـلمان سـره خبـرې

تـر دې دمـه حېـران یمـه چـې نـور بـهٔ لا څـهٔ کیـږي؟
دا خـلـق نـهٔ یـریږي کـړي سـبحان سـره خبـرې

یر یـېـږمـه قـراره چـې عـذاب چرتـه را نـهٔ شـي
چـا کـولـې بـهٔ د کـانو د بـاران سـره خبـرې

❀❀❀

# بندیوان اورکزے

---

خپل نوم عرفان شاه، تخلص بندیوان اورکزے او د پلار نوم جناب روزي خان لري موجوده و مستقل پته محله و کلے سروبي ډاکخانه تازه ګرام تحصیل کاټلنګ ضلع مردان خیبر پښتون خواه

# نظم

ګـل رنګـې مـا لیکلـي کمـر بنـد بانـدې پښـتو
دا ځکـه تـا تـه لیکمـه مړونـد بانـدې پښـتو

نکیر منکر کهٔ ما نه پهٔ پښتو کښې تپوس اوکړي
مـا ټـول عمـر وئیلـي ده پـهٔ ژونـد بانـدې پښـتو

پښتو چې یې زده کړي وي لهٔ نسله پښتون نهٔ وي
هغـوئ ده ماتـه کـړي پـهٔ پېونـد بانـدې پښـتو

پښـتو کښـې هر کلے وئـېل پښـتو کښـې یکـه زار
ابـې راتـه ښـودلي ده پـهٔ خونـد بانـدې پـښتو

پـښتو کښې نیم ایمـان را تـه ښـکاریږي بندیوانـه!
هـر چـا ده نـازولي بنـد پـهٔ بنـد بانـدې پښـتو

❀ ✿ ❀

یو وخت وۀ چې بلها محبتونه خرڅېدل
بیا هم پۀ ما مئین ستا دیدنونه خرڅېدل

غربت وۀ نو داجي مې ځکه ستړګي پټولې
روان وو پۀ بازار کښې ډېر څیزونه خرڅېدل

دا نۀ چې د یوسف پۀ سر پۀ مصر کښې بولي وه
زمونږه پښتون خواه کښې هم سرونه خرڅېدل

د حورو د غلمانو سودا هم پکښې کښېدله
خو کاشکې دلته لږ ډېر کۀ عقلونه خرڅېدل

زمونږه بچیو ځکه د بمونو سودا اوکړه
د ښار پۀ کباړي مو کتابونه خرڅېدل

غریب وۀ بندیوان ځکه بغیر کفنه ښخ شو
هر څو کۀ پۀ کوڅو کښې کفنونه خرڅېدل

د محبت د ژوند مې داسې اندازه واخسته
ما پکښې سر بائيلو رقيب ترې نه مزه واخسته

هغې وئیل ما خپل پاپا بهٔ طالب جان لهٔ ورکئ
اوس مدرسې ته ځم ما ځان له سيپاره واخسته

اوس بهٔ ایله د محبت پهٔ نامه پوهه شمه
اوس مې د عشق پهٔ مدرسه کښې داخله واخسته

ما د بابا ارمان پوره کړو کهٔ جائیداد مې خرڅ کړو
ما پهٔ دې دؤر کښې خپل کور له دروازهٔ واخسته

وئیل یې نه ملګرو دا خو پهٔ ما ځان درنوي
د بندیوان چا پهٔ دروغه جنازه واخسته

ما پسې یې ډېر ژړل، خو قار ورته بې بې نۀ شوه
کړه مور ځان ته را جوخته، نن بې حوصلې نۀ شوه

مسته د سپرلي هوا، کښې ولې مستي نۀ کوي
نن خو ژړغوني شوه، او تاو د لوپټې نۀ شو
لاس یې اوچت کړي دي، ځان سره څۀ وایي خو
زۀ ترې نه پناه شومه، دا کوزه د کوټې نۀ شوه
کور له یې د زکوة پیسې، راوړې د زکوة چارمېن
ځار د پښتنې کونډې، بهر د دروازې نۀ شوه
ستا د ځواني مرګ خبره، هغه هم د روژې پۀ خولې
شکر دے چې مړ نۀ شوم، ښېره دې را پسې نۀ شوه
مینې یې سپین ږیرے کړم، اوس خو ترې شرمېږمه
دغه د شپونکي لور مې، هېڅ پۀ مینه پوه نۀ شوه

کتې د بندیوان خلق، وړي دا ورته ګوري خو
دا بې خوده شوي ده، پوه پۀ جنازې نۀ شوه

❀ ❀ ❀

هلته اوس هر سړے لګیا دے مونږ له غم جوړوي
هلته له اوسپنې نه لوئے وړوکے بم جوړوي

دواړه د یو ادم اولاد دے فرق دومره دے چې
یو پۀ عمل ځان له جنت بل جهنم جوړوي
زما پښتون زلمي ټوپک نه شپېلۍ ځکه پرېکړه
چې د باقي حصې نه ځان له اوس قلم جوړوي
خاوره یوه ده خو دے فرق د خالق او مخلوق
رب ترې ادم جوړوي دوئ ترې نه صنم جوړوي
زه بۀ د امن پس لۀ مرګه هم ارمان کوومه
زما چې قبر کله هلته پۀ تورخم جوړوي
او چې بابا مې د جنت نه پرې را وتے منم
داسې خو نه ده چې غمونه دې غنم جوړوي

زما د تن وینې یې نوش کړې بندیوان یې کړمه
چې ساه مې لاړه اوس پۀ قبر مې ماتم جوړوي

# حبیب الرحمان مظلوم

خپل نـوم حبیـب الرحمـان، تخلص مظلـوم او د پلار نوم خاښسته خان لري مسـتقل پتـه محلـه خوئږداد خېل کلے زاوه ډاکخانـه و تحصـیل صدا ضـلع کـورم موجـوده پتــه محلـه و کلـے بـډه بېـر ډاکخانـه، تحصـیل و ضـلع پېښـور خیبـر پښـتون خواه

د ابراهیم قرار صیب پۀ بیت طرحي لیک

هـــر یـــو ارمـــان پســـې ارمـــان کوومـــه
بـــس زنـــدګي ده چـــې ګـــزران کوومـــه

د یـــار پـــۀ کـــاڼي زړۀ کښـــې رحـــم نشـــته
تـــش ګوزارونـــه پـــۀ ســـندان کوومـــه
رقیبـــه ګـــوره پـــرې خفـــه چـــې نـــۀ شـــې
"یـــو څـــو خبـــرې د جانـــان کوومـــه"
مـــا مـــې خپـــل ژونـــد پـــۀ صـــدقه کښـــې ورکـــړو
ملګـــرو ګټـــه پـــۀ تـــاوان کوومـــه
د ســـــرداړانو د ے ســـــردار د دنیـــــا
د محبـــت یـــې اوس اعـــلان کوومـــه
د محبـــت لـــۀ قبـــده نـــۀ وم خبـــر
اوس بـــۀ ژونـــدون پـــۀ دې زنـــدان کوومـــه

مظلومـــــه دا دي د نصـــــیب خبـــــرې
زۀ بـــه د چـــا، چـــا نـــه خفګـــان کومـــه

طرحي ليک د اميد درمل صېب پۀ کلام

ناست ومه پۀ طمع ستا بلبلې تۀ شپه
خدائېګو کۀ مې سترګې پټېدلې تۀ شپه

ياره فاصلې مو لرې وې
خيال پۀ ائينه کښې مې ليدلې تۀ شپه

وي لکه پۀ للمه چې باران دغسې تۀ
زړۀ باندې مې داسې وريدلې تۀ شپه

وعدې دې پۀ وعدو پسې کوې او ماتوې
ستا وعدې مې ځان سره ليکلې تۀ شپه

بيا مې ګريوان تر کړو تۀ يې اوګوره
"اوښکې مې ډېوې ته تويولې تۀ شپه"

وايمه مظلوم پۀ هېرېدلو راته ګرانه شي
ستا خمارې سترګې مې يادېدلې تۀ شپه

د یـــــار لــــهٔ زړهٔ رحـــــم کـــــرم وتـــــې دے
ځکــــه مــــې ســـــترګو پســــې نـــم وتــــې دے

اوس بــــهٔ د مــــچ غونـــدې لاســـونه مــــروړم
زمــــا د لاســـــو نــــــه ګلفـــــم وتـــــې دے

پــــهٔ دې خبـــرې بــــهٔ لــــوئے ربــــه ګـــواه وې
پــــــهٔ څـــــهٔ خبـــــره چـــــې ادم وتــــــې دے

د وخـــــت مفتیــــــانو لــــهٔ خـــولې دا اورمــــــه
چـــــې د جنــــت نــــه پــــهٔ غـــــنم وتــــې دے

اوس بـــــهٔ اشـــــنا تــــه اشـــــنا څنګـــــه وایـــــم
زمـــــا د خـــــولې نــــه چـــې قســـم وتـــې دے

دنیـــــــا فــــــاني ده در نــــــه پـــــاتې شـــــوله
مظلومــــــه روح د تنــــــې ســــــم وتـــــــې دے

❀❀❀

ستـــرګې مــــې کـــار نـــهٔ کـــوي
زړهٔ مــــې انکـــــار نـــــهٔ کـــــوي

پــــــت پښــــــتو نــــــهٔ پـــــالي
بيــــا دې اقـــــرار نـــــهٔ کـــــوي

تـــــورو خــــاورو جــــوړ شـــــوه
رنــــګ دې رنګــــدار نـــــهٔ کـــــوي

زهٔ يـــــــې ليــــــونے کـــــــړم
اوس دې ځــــــار نـــــهٔ کـــــوي

يـــهٔ مظلومـــه څـــهٔ بـــهٔ کيـــږي
يـــار دې اظهــــار نـــــهٔ کـــــوي

✍

غـزل چـې د تنقیـد چوکـاټ نـه وځـي نـو کتـاب شـي
نسان د انسانیت چوکاټ کښې اودریږي حساب شي

مثـــــال د ګنـــــاهونو درکوومـــــه کـــــۀ پـــــوهیږې
که یو یو څاڅکے راشي جمع کیږي نو دریاب شي

کـــۀ مـــا ګرېـــوان څیـــرلے ســـر بیـــر ورپســـې ګـــرځم
دا هر مئین ته حق د ے چې صنم پسې خراب شي

خواري د چا عبث نۀ ځي کۀ سوچ ور باندې اوکړي
دې وچ لرګـي تـه اوګـوره محنـت سـره ربـاب شـي

هنـــدارو ســـره ګـــوره د خبـــرو کـــول نـــۀ شـــي
تـۀ څـۀ وایـې مظلومـه چـې ځـواب تـه بـۀ ځـواب شـي

❀❀❀

## خاورې اکرم اورکزے

خپـل نـوم اکـرم خـان، تخلـص خـاورې اورکزے او د پلار نوم عبدالرحمان لري مستقل پته محله و کلے سرکه ډاکخانه غلجو تحصیل اپر اورکزي ضلع اورکزي موجوده پته محله و کلے بهادر کوټ ډاکخانه، تحصیل و ضلع کوهاټ خیبر پښتون خواه

مـــړه څـــو کســـــان را نــــه ورک شـــــوي دي
نـــۀ ښـــکاري يــــاران را نـــه ورک شـــوي دي

زه خــــو مــــې قســـمت تــــه فکـــر وړے يـــم
واړه مشـــــــران را نـــــــه ورک شـــــــوي دي
پرېـــږده چـــې ســـلګۍ پـــۀ قـــرار واخلمـــه
ښـــکلي انســـانان را نـــه ورک شـــوي دي
خبـــر دے کـــۀ نشـــه نشـــه زنګېږمـــه
يــــاره خماريـــان را نـــه ورک شـــوي دي
زۀ پـــۀ دې فـــاني دنيـــا نـــور څـــۀ کـــوم
پيـــره مرېـــدان را نـــه ورک شـــوي دي
زۀ يـــې محبـــت کښـــې بيمـــار شـــوے يـــم
خلقـــه طبيبـــان را نـــه ورک شـــوي دي

اوس بـــۀ اکـــرم خـــود ســـتړي ســـلګۍ وهـــم
څکـــه چـــې خپلـــوان را نـــه ورک شـــوي دي

## قطعه

کلـــه دي پـــهٔ خـــوږ نظـــر او نـــهٔ کتـــل
ځکـــه ســـتا یـــارۍ ســـره مـــې ورانـــه کـــړه

بـــس د ے کـــډه ورېم درځنـــې لـــرې ځـــم
بـــس کلیـــوالۍ ســـره مـــې ورانـــه کـــړه

چـــا راتـــه پـــهٔ مینـــه لاس را نـــهٔ کړلـــو
ځکـــه خپلـــولۍ ســـره مـــې ورانـــه کـــړه

ښـــکلو ښـــکلو خلقـــو تـــه ســـلام کـــؤم
خلقـــو بـــازارۍ ســـره مـــې ورانـــه کـــړه

واړه پـــهٔ یـــو شـــان نـــهٔ دي اکرمـــه خـــو
مـــړه بـــس پلانـــۍ ســـره مـــې ورانـــه کـــړه

## څو بيتونه

چا تـه پـۀ يـو خبـره ګـران شـي سـړے
چـا نـه پـۀ نـۀ خبـره وران شـي سـړے

څـوک د وفـا پـۀ لاره ژونـد تيـروي
څوک ترې نه شاه کړي او روان شـي سړے

اکرمـه تـول خلق خـو يـو شـان نـۀ وي
چرته يو نيم پکښي جانان شـي سړے

## کلام

وختـــه پـــهٔ نشـــو دې اړولـــے يـــم
څـــهٔ پـــهٔ وسوســـو دې اړولـــے يـــم

زه خـــو داســـي نـــهٔ وم لکـــه ښـــکارمه
ســـم پـــهٔ تماشـــو دې اړولـــے يـــم

نـــهٔ شـــم درتلـــے يـــاره ستاســـو کلـــي تـــه
څـــهٔ پـــهٔ لـــوړو غـــرو دې اړولـــے يـــم

کلـــه د اکـــرم ښـــتنه هـــم کـــوه
هســـې پـــهٔ لانجـــو دې اړولـــے يـــم

زۀ چې مړ شم جنازې لـه خو بيـا راشـه
ګرانـه يـاره يـو شـېبې لـه خو بيـا راشـه

د مرګـي پـۀ زولنـو کښـي بـۀ بنـدي وم
مـۀ شـرمېږه فـاتحې لـه خو بيـا راشـه

چې مې کلـه تـور لحـد کښـې بنديوان کړي
پـۀ خنـده شـه وظيفـې لـه خو بيـا راشـه

ګـل ځـواني مـې پـۀ پـردي وطـن کـړه تېـره
درنـه وړي مـې دروازې لـه خو بيـا راشـه

مـا اکـرم خـاوري اکـرم تـه دعـا اوکـړه
مـازيګر کښـي مقبرې لـه خو بيـا راشـه

## منظور حیات سرفروش

خپل نوم منظور حیات، تخلص سرفروش او
د پلار نوم ښادمیر خان لري موجوده پته محله
الیکټریکل و میکینیکل انجینئرز سنټر کلے
کوہټه کینټ ډاکخانه اي-ایم-اي سنټر تحصیل و
ضلع کوہټه مستقل پته محله لوړ کلی کلے کاس
ماماخیل ډاکخانه میشتي میله تحصیل درمیانه
ضلع اورکزي خیبر پښتون خواه

# کلام

بس دا زۀ یم کۀ تۀول خلق پۀ عذاب دي
چې نۀ دین پېژني نۀ څوک پۀ کتاب دي

بد تربور هم پۀ بد ځائے کښې پکارېږي
پښتانۀ ورونه مې یو بل ته قصاب دي

د پردي پلاو تر هغې پورې خوند وي
ستا پۀ خولۀ چې ورته څو جناب دي

نصیحت د سرفروش د شګو بند دے
چا ساتلي وچ بندونه لۀ سېلاب دي

❀✿❀

## قطعه

جانانــه زۀ بــۀ بیــــــا هــم دا اوګــڼــم
چــې عبــادت دې د یــو خــدائے او نــۀ کــــړو

نــن یــــــې پــــۀ خولــۀ بانــدې وه بلــه وینــا
هــــغې خــــو نــن لالـــــے او نــۀ کــــړو

خدایــه ستــــــا ځومــــــره خــوښ نصـیبه بنــده
چــې لــۀ غربتــه یــې پښمنــے او نــۀ کــــړو

چـــې خفـــــه نـۀ شـــې رانــه یــۀ اختـــــره
دا ځـــــل رواج مــــې پښـــورے او نــۀ کــــړو

پښتـــــــــون بچـــې تـــه مـــړ بابـــا یـــاد ږدو
ځــــــکه یـــــې ستــا څــۀ تَیــارے او نــۀ کــــړو

## قطعه

کۀ هر څو ځان ساتمه خو ماښام پۀ مېخانې وي
سحر مې لۀ مورجانې د دعا نه شروع کيږي

زما د لېونتوب هره وړه لويه قيصه خو
کۀ سوچ پِرې اوشي ستا د يو ادا نه شروع کيږي

دې بې معنې اشعارو ته حېران يم سرفروشه!
چې ذکرِ مجنون نۀ لري ليلې نه شروع کيږي

# کلام

مـــــا بـــهٔ چـــې کلـــه ســتا یـــاري کولـــه
پــــهٔ ځـــان بـــهٔ مـــا ډېـــره خـــواري کولـــه

زهٔ یـــرېـــدم پـــهٔ میـنـــه نـــهٔ پـوهېـــــدم
میــــنه مــــې دې پـاګـــل زړګــــي کـــوله

تــــر څــــو چــې زهٔ ومــه پښــتون عالـــمه
هـــــر ســـړي مـــا تـــه سلامــــــي کـــوله

هڅـــې مـــې نـــوم پـــهٔ ځـــان پښـتـــون ایښـې دے
نـــوره مــــې ځـــــان ســـره تـږګـــي کـــولـــه

مـــات کـــړه قـلـــم سـرفروش خولـهٔ بنـد ساتـــه
پـــــهٔ پـــښتنو چـــا شـــاعـــري کـــولــــه

❁ ✿ ❁

## عابد خان حق يار

خپل نوم عابد خان، تخلص حقيار او د پلار نوم ګلا خان لري موجوده پته محله دلاژاک روډ کلے میرعالم جبه ډاکخانه )فتوادریما (تحصیل و ضلع پېښور مستقل پته محله و کلے کرپې ډاکخانه غلجو تحصیل ضلع اورکزي خیبر پښتون خواه

زما د خیال مارغهٔ بهٔ هم بره الوت شروع کړي
زما د قام خلق کهٔ مینه محبت شروع کړي

بیا بهٔ یې ګورې بریالي بهٔ وي پهٔ هر میدان کښې
که دغه خلق لږ شان کار د وحدانیت شروع کړي
روزي رسان مو لوئے الله دے خو همت پکار دے
انسان بهٔ ښهٔ شي که د دین اسلام محنت شروع کړي
زمونږه وینه کهٔ ارزانه ده نو وجه دا ده
زمونږ پهٔ وینه باندې دلته سیاست شروع کړي
حالات څهٔ داسې دي چې خلق بیا څهٔ نور څهٔ وایې
پهٔ دغه دؤر کښې چې څوک هم شرافت شروع کړي
د هغهٔ حشر بهٔ بې شکه د عمر سره وي
چې کوم سړے پهٔ سلطنت کښې صداقت شروع کړي

خلق بیا دا وایې چې دا شاعر پاګل دے لکه
عابد چې کله پهٔ غزل کښې حقیقت شروع کړي

# کلام

ملګــرو يــو قلــم يــوه کــاپي را لــه پکــار ده
يـﻪ بنـﺉ د احســاس ډکـه شــاعري را لـه پکــار ده

ګلابه اوس ستا خوښه ده اظهار او کۀ انکار کړې
خــو دومـره در تــه وايـم ســتا يــاري رالــه پکــار ده

د ظلـم، د وحشـت او جهالـت تيـارو کښـې ګيـر يـم
د علــم شــمع راوړې رڼــايي رالــه پکــار ده

عابـده د دې قــوم بچــي لـﺉ خپـل تـاريخ خبـر کـړه
عابـــده د دې قـــام ترجمـــاني رالـــه پکـــار ده

دا شمع د سبحان وه چې اسمان ته رسېده
رڼا یې د مخ ځکه کل جهان ته رسېده

دنیا به په ژړا شوه کاڼو بوټو به ژړل
د سترګو نه یې اوښکه چې ګرېوان ته رسېده

د عشق په لاره تلل دومره اسان نهٔ دي قربان
دا تېره وه له سره چې جانان ته رسېده

بې وسه پاک الله ته په سجده کښې ژړېده
زما مسلمه خور چې تور زندان ته رسېده

یو ښکلي طلب ګار چې شومه زهٔ عابد حقیار
خوشحال وم کهٔ هر څو قیصه تاوان ته رسېده

❀❀❀

پرهـر مـې درد کـوي لـهٔ سـترګو مـې اوبـهٔ اوباسـي
جانـان تـه اوواېٔ چـې سـاه را نـه پـهٔ څـهٔ اوباسـي

دومره ښاېست الله ورکـړے دے چـې حد يـې نشـته
چـا تـه چـې اوګـوري پـهٔ تـش کتـو تـرې زړهٔ اوباسـي

د جانـان غـم دومـره ظـالم دے چـې مـې اوژړوي
اوښکې مې داسې چې لـهٔ سترګو مې رانجهٔ اوباسي

ستاسـو د کلـي خلـق مـا تـه پښـتانهٔ نـهٔ ښـکاري
ګنـي پـهٔ زوره څـوک لـهٔ کلـي ميلمانـهٔ اوباسـي

هغـه ځـوانۍ کښـې ده عابـده پـهٔ ځـان نـهٔ پـوهيږي
پـهٔ مخـامخ کتـو ځيګـر نـه مـې بانـهٔ اوباسـي

❀✿❀

د خپل لیدلي خوب تعبیر را باندې څهٔ او نهٔ کړل؟
د لیـوني جانـان تصـویر راباندې څـهٔ او نـهٔ کـړل؟

زهٔ د چـــا ووم او د چـــا غیـــرې تـــه اورســـیدم
ملګرو اوګورۍ تقـدیر را بانـدې څهٔ او نـهٔ کـړل؟

یـو خـواه غربـت ظـالم د لاسـو پښـو تـړلے وومـه
بـل د رواج هغـې زنځیـر را بانـدې څهٔ او نـهٔ کـړل؟

هغـه چې خلقـو یـې صـفت کـوو لـهٔ ډیـرې مـودې
هغــه د بـره کلـي پیـر را بانـدې څـهٔ او نـهٔ کـړل؟

پـهٔ یـو نظـر لیـدو یـې زهٔ عابـد د ځـان غـلام کـړم
د هغې مړو سترګو تاثیر را باندې څهٔ او نهٔ کړل؟

❀✿❀

## شمس الرحمان قریشي

خپل نوم شمس الرحمن، تخلص قریشي او د
پلار نوم محمد یار خان لري موجوده پته محله
پشه پل کلے او ډاکخانه ګره رحمان تحصیل
یارک ضلع ډیره اسماعیل خان مستقل پته کلے
ستراغزے ډاکخانه و تحصیل تیارزه ضلع
ساوتهٔ وزیرستان خیبر پښتون خواه

## کلام

پـۀ پنـــدو پنـدو اوکـړه عملونـه پـۀ روژه کښـې
وریـــږي مسلـــمانه رحمتونـه پـۀ روژه کښـې

اخ ډېرو تـه بـۀ ډېر پـۀ دسترخوان بانـدې یـادیږي
خـــالي بـۀ وي د ډېـرو بیـا ځایونـه پـۀ روژه کښـې
محـروم چـې پـاتې نـۀ شـې دي بـې شـمېره ثوابونـه
بدلیږي یو پـۀ دوه باندې نمونځونـه پـۀ روژه کښـې
پـۀ کلـي او کوڅـه کښـې د یتـــیم پوښـتنه اوکـړه
چې هېر یې نۀ کړې خانه !افطارونه پۀ روژه کښـې
بس هغه بد نصیب خلق دي ډېر پـۀ خسـاره کښـې
چې کوم خلق ښـکاره کړي ګناهونه پـۀ روژه کښـې
کـــوه د غریبـــانو ســـــره مرســـتې امدادونـــه
خو پام دې ګوره نـۀ شـي تصـویرونه پـۀ روژه کښـې

شـپۀ ورځ الله تـه ژاړه قرېشـي شـــمس الرحمانـه!
شـپۀ ورځ الله نـه غـواړه بخششـونه پـۀ روژه کښـې

❀❀❀

# کلام

چې په زړۀ پرهر پرهر وي څۀ به خاندي
چې جدا لۀ خپل دلبر وي څۀ به خاندي

هغه څوک چې د يو چا په پاکه مينه
را لوېدلے لۀ کمر وي څۀ به خاندي
د خانانو خو د يو شي کمے نۀ وي
چې د څو ورځو نهر وي څۀ به خاندي
دا منم چې په وطن کښې وي خوندونه
خو سړے چې مسافر وي څۀ به خاندي
د يو چا چې په باطن کښې ايمان نۀ وي
کۀ دولت يې سمندر وي څۀ به خاندي
خدايه نور مو په کډو والو رحم اوکړې
اخ چې داسې در په در وي څۀ به خاندي

قرېشي بۀ وايه داسې زندګۍ کښې
چې غمونه يې په سر وي څه به خاندي

❀ ✿ ❀

يو وخت وۀ ماشومـتوبه ستا دوران څۀ عجيبـه وۀ
د خـــپل زړه بادشاهي وه دا جهان څۀ عجيبه وۀ

دخـــــلقو نه مـــې نوم د جـانان ډېر وو اوريـدلے
چـې کله مـې پېـــدا کړلـو جانان څۀ عجيبه وۀ

په زړۀ کښې بـۀ يې لارې جـوړولې لـۀ ډېر کېـــفه
چـــې کـلــــه بـۀ بلال کړلـو اذان څۀ عجيبه وۀ

نن مـونږ پـۀ زنده باد او مـرده باد پـــسې روان يـو
تاريخ مو د حـاجي مېـــرزلي خان څۀ عجيبه وۀ

تر ډېره ورته ناست ومـه خـــو حال يې نۀ وئيلـو
سـاتلے قرېشـي زړۀ کـــښې ارمـان څۀ عجيبه وۀ

تـر څـــــو بـهٔ یـم پـهٔ تـا پسـې بیمـاره خونـد دې نشـته
د خـــوږ زړهٔ مې ملهـم نـهٔ شـولې یاره خونـد دې نشـته

لـهٔ ډېـر وخـــــته روان دي پـهٔ دې کلي کښـې مرګونـه
خـــــبرېږې ترې نه ولـې نـه واکداره خونـد دې نشـته؟

پـهٔ دومـره ډېـر حجونـو او عـمـرو دې خلاصـون نـهٔ شـي
پـهٔ چـم کښـې دې نهر اوسي مالـداره خونـد دې نشـته

چـــــنار چـــنار ســــړي مــو د خـــزان بـادونو وړي
زمونــږ پـهٔ کلـي مـهٔ راځـــــه بهـاره خونـد دې نشـته

زما خو د یو چا پـهٔ جـدایۍ کښـې سترګې سرې دي
تـهٔ ولـې داسې غلــــــې یې رېباره خونـد دې نشـته؟

پـهٔ هـر چـا قربشـي هـم اوس بـاور کـولې نـهٔ شـم
حـال ځکـه رانـه مـهٔ پوښــته رازداره خونـد دې نشـته

چې صحت نۀ وي مستي لۀ سرې نۀ شي
پۀ بد حال کښې زندګي لۀ سرې نۀ شي

پۀ ګناه چې څوک د زړۀ ښيښه کړي توره
نيک عمل بيا روښاني لۀ سرې نۀ شي

د هغۀ سرې ژوندون بۀ اخېر څۀ وي؟
يۀ صاحبه چې شوخي لۀ سرې نۀ شي

شاعرۍ د زړۀ پۀ درد خوار قريشي کړم
بې لۀ درده شاعري لۀ سرې نۀ شي

## حبیب الله مجاهد

خپل نوم حبیب الله، تخلص مجاهد او د پلار نوم باچا خان لري موجوده و مستقل پته محله سیمر کلے و ډاکخانه بیاړ تحصیل کلکوټ ضلع بره دیر خیبر پښتون خواه

يو غم ور کښي د ستا دې دروازې له ځي را ځي
زړګے زما لۀ درده ترې سينې له ځي را ځي

پۀ نوم دې هسې يار يمه پښتنه قدرې نۀ کړې
ياران خو د يارانو کره شپې له ځي را ځي

دا پيغله بۀ پۀ تش کښي يې سوځيږي يوه ورځې
پتنګ پۀ شانې دا چې هم لمبې له ځي را ځي

حيران يم چې د چا سره هم څۀ خبره کومه
بس ستا دغه نامه مې پکښې خولې له ځې راځې

بس زۀ ترې خبر نۀ يم خو دا خلق داسې وايي
حبيب پۀ دې کوڅه باندې هم دې له ځي راځي

❀ ✿ ❀

چــې د ګلونــو کرونــده بانــدې اختــه پښــتون دے
تــل د ازغــو يــې جوګــه کــړے هــم هغــه پښــتون د

پــۀ کومــه خــاوره بانــدې ژونــد د غلامــۍ تېــروي
هـم دغـه خـاورې ازادۍ پـۀ جنـګ لمبـه پښـتون دے

پښــتو د امــن ننــګ غېــرت او رورولــۍ نامــه ده
چې دا سيرت پکښې موجود وي نو کره پښتون دے

زۀ پـۀ دې نـۀ يـم چـې د خپـل رهبـر نـه ډډه کـوې
حېـران پـۀ دې يـم چې اغيـار پسې پـره پښـتون دے

ښـار پښـتانۀ خپـل ده کلتـور رواج نـه ډډه کـوي
حبيبـه څـۀ نـا څـۀ پښـتون زمـا د غـره پښـتون دے

کـــۀ الفـــت ســـره راځـــې درســـره ځغـــل کـــړم
تـــۀ کـــۀ مینـــه را کـــوې زۀ یـــو پـــۀ ســـل کـــړم

زۀ امیـــد لـــرم چـــې داســـې وخـــت بـــۀ راشـــي
دا نفـــرت بـــۀ دې پـــۀ مینـــه کښـــې بـــدل کـــړم

کـــۀ اغیـــار پـــۀ خـــاوره خـــوښ یـــې مـــا نـــه پـــاتې
د شـــملو وطـــن تـــه راشـــه چـــې دې خپـــل کـــړم

خدایـــه دومـــره طاقـــت را کـــړه پـــۀ دنیـــا کښـــې
د پښـــتو بـــوټي چـــې خپـــل چمـــن کښـــې ګـــل کـــړم

هـــم هغـــوئ زمـــا پـــۀ ســـر بانـــدې ســـودا کـــړي
زۀ چـــې تبـــر د چـــا پـــۀ ســـر بانـــدې منګـــل کـــړم

بـــې لـــۀ تـــا حبیـــب نامـــه دنیـــا کښـــې نـــۀ وه
پـــه دې شـــکر دے چـــې تـــا ســـره یـــې مـــل کـــړم

پــهٔ ستاینــه زمــا هلــه شولــو خــور مــخ
مــا چــې کلــه مشقــت بانــدې کـړو تــور مــخ

استــوګنــه را لــه پــهٔ هغــه ځائــے پکــار ده
چــې ښــکاره تــرې د جانــان وي را تــه کــور مــخ

چــې نظــر دې پــهٔ تــور ســرو چــرته لــګي
هغــه دم پــهٔ زړهٔ کښــې را ولــه د خــور مــخ

لیــونے خــو یــې د سترګــو پــهٔ کتــو شــوم
لاخــو پــاتې دي لیــدل د جــانان نــور مــخ

عقیــده مــو پــهٔ رب هغــه شــان پــکار ده
ابراهیــم نــهٔ اړولــو ځــنګ لــهٔ اور مــخ

ستومــانې مــې د تمــامې ورځ ختمــیږي
زهٔ حبیــب چــې ماښــام ګــورمه د مــور مــخ

پۀ خپل دغه کردار پکښې بې عـزته شـي سـړے
مـحـفـل تـه چې داخـل چرتـه بې سته شـي سـړے

خـائـســت تـه پـۀ کـتــو يـې مـلامـتــه شـي سـړے
چــپو تــه د غــمـونــو ور پــۀ ګـوتــه شــي ســړے

دا زۀ يـم چې پـۀ فکـر کښــې دې ځـان محسوســوم
فـکـرونـو د جانـان کښـې خـو لا پـتــه شـي سـړے

خـطـر چې وي پۀ کـوم ځـائے کښـې د سر د لـګـيــدو
پـکار ده چې پۀ هغه ځائے کښـې ښکته شي سـړے

وېسـتــل تـرې نــه اســانه بانـدې ګـرانه وي مـنـم
پـۀ مينــه بانـدې يـو وارې چې زړۀ تـه شـي سـړے

حـبيبــه ځـوک چې سپـکـو سـره تلـل راتلـل کـوي
نو خلاص بۀ خواه مـخواه د خپـل عـزته شي سـړے

## اسماعیل الرحمان نادان ملنګ

خپل نوم اسماعیل الرحمان، تخلص نادان ملنګ او د پلار نوم تاج محمد خان لري موجوده پته و مستقل پته محله و کلے خادیزی ډاکخانه غلجو تحصیل و ضلع هنګو خیبر پښتون خواه

زۀ چې ستا لۀ ښکلي خیاله اولوېدم
او منه دَ خپله حاله اولوېدم

پرېوتم پۀ زمکه هېڅ خبر نۀ شوم
خاص لکه مارغۀ دَ ځاله اولوېدم

اوس مې نغمه ګر خلق پرېښي دي
بس دے نور دَ سور او تاله اولوېدم

څۀ بۀ درته وایمه چُپ ښۀ یمه
اوس خو دَ هر فن کماله اولوېدم

زۀ نادان ملنګ خو د چا مینه کښې
لاړم دَ دنیا دَ ماله اولوېدم

کـۀ هـر خـومره لـوئے جهـان دے خـو پـرې څـۀ؟
پـۀ ظاهــر کــۀ گلــستان دے خــو پرې څــۀ؟

د غـــمونو ســـره ژونـــد بــۀ لا څــۀ ژونــد وي
ژونـد اغـيارو لـۀ بوسـتان دے خـو پـرې څـۀ؟

نفرتــونــــه چـــې لــــــري د زړۀ د نــــنه
بــې د مــيني کـۀ انـسان دے خـو پـرې څــۀ؟

محــبت لـــري دنـــيا ســـره دنـــيا کښـــې
دا مـــنم چـــې مسلـــمان دے خــو پــرې څــۀ؟

امـــيري د ايـــمان نـــۀ لــــري بـــې ايـــمانه
د پـــېسو پــۀ وجــه خــان دے خــو پــرې څــۀ؟

مــا نــادان ملنــګ تــرې هـېڅ څـۀ جـوړه نـۀ کـړه
ژونـد مرګـي پـۀ لـور روان دے خـو پـرې څـۀ؟

غزل لکه لـرګـے سوځـي د وور تــنـده پرې نـهٔ ماتــيږي
وېښـتـهٔ چـې سـپـين شـي نـو د تـور تـنـده پـرې نـهٔ مـاتـيږي

پــردي وطـن کښــې مســـــافر لـوږې مـاښـې څـهٔ کـوي؟
پـهٔ لـوګـو تــور د خــتـو کــور تــنـده پـرې نـهٔ مـاتـيږي

پهٔ غــوږو کــوڼ ســړے د ښـار لـهٔ شوره څـهٔ خبر د ے؟
غـوږ چـې اودهٔ شـي بــيا د شـور تــنـده پـرې نـهٔ مـاتـيږي

غوز بهٔ څـهٔ مات کــړي چـې انګور پرې مـاتولے نـهٔ شي
خولـهٔ چـې بـې غاښـه شــي د زور تنده پـرې نـهٔ مـاتـيږي

نـادان ملنګـه کــهٔ مېــره ډېــره هــم ښـه ښـځه شــي
مــنم چـــې مــور ده خـو د مــور تــنده پـرې نـهٔ مـاتـيږي

پـۀ نصـيب مـې جـدايي ده خـو بـس ښـه ده
دَ هــر غــم ســره يــاري ده خــو بــس ښــه ده

نــۀ مــــې لاره نــۀ منــزل شــته عجيبــه يــم
عجيبــه مــې زنــــدګي ده خــو بــس ښــه ده
حقيقت د ے چې پۀ ګور کښې سکوت خوند کا
هـم پـۀ مـا کښــې خاموشـي ده خـو بـس ښـه ده
انجــــم ګورمــه فلــک لاتــدې څليـــږي
تــوره شــپه ده رڼــايي ده خــو بــس ښــه ده
ســـتا راتلــو لارې څـــارم لېــونے نــۀ يــم
دا مــې ډېــره مجــبوري ده خــو بــس ښــه ده
ارمانـــونه مـــې نيمګـــړي پـــوره نـــۀ شـــو
دنياخـــومره ارمانــــي ده خــو بــس ښــه ده

مــــا نــادان ملنـګ تـه دغـه ژوَنـد جنـت د ے
کــه هـــر څــومره غريبــي ده خــو بــس ښــه ده

❁ ✿ ❁

بهـــار يـــم کـــۀ خـــزان يـــم خـــو روان يـــم
مېـــړے يـــم کـــۀ انســـان يـــم خـــو روان يـــم

نـــن خـــو تېـــر، صـــبا بـــۀ تېـــر لکـــه د نـــن شـــي
ابـــاد يـــم کـــۀ ويـــران يـــم خـــو روان يـــم
شـــپه او ورځـــې مـــې مـــزل دے تـــر منزلـــه
ځيلـــۍ يـــم کـــۀ بـــاران يـــم خـــو روان يـــم
پـــرون نـــۀ وم نـــن ژونـــد ے صـــبا بـــۀ مـــړ يـــم
فقيـــر يـــم کـــۀ ســـلطان يـــم خـــو روان يـــم
څلـــه اوکړمـــه غـــرور چـــې مـــرګے شـــته د ے؟
لښـــکر يـــم کـــۀ کـــاروان يـــم خـــو روان يـــم
زۀ پـــۀ دې خبـــره ښـــۀ قـــايم دايـــم يـــم
جهـــان يـــم کـــۀ افغـــان يـــم خـــو روان يـــم

نـــن صـــبا کښـــې تـــرې نـــه کـــوچ د ے دنيـــا پـــاتې
دانـــا يـــم کـــۀ نـــادان يـــم خـــو روان يـــم

❀✿❀

## سیف اللہ خان قلمیار

خپل نوم سیف اللہ خان، تخلص قلم یار او د پلار نوم شیرجان موجوده و مستقل پته محله وزیر شاه کورونه کلے پټ دربند ډکخانه، تحصیل او ضلع هنګو خیبر پښتون خواه

د ستا دَ وینې تویېدو پوښتنه چا کړې ده؟
اودهٔ پښتونه پښتنو وژنه چا کړې ده؟

هر یو قدم دَ پښتنو دے دَ ازغو پهٔ څوکو
پښتون پهٔ خاوره د ازغو کرنه چا کړې ده؟

تنکي تنکي ګلونه اورژېدل پاڼي پاڼي
وایه مالیاره د ګلاب ساتنه چا کړې ده؟

ډېر شاعران لیکي اشعار خپلې پښتو د پاره
خفه پهٔ دې یم چې دَ دوئ مننه چا کړې ده

زهٔ قلم یار درنه ګیله پهٔ دې جفا نهٔ کوم
پهٔ کُل جهان دَ وفا کلکه ژمنه چا کړې ده؟

❀ ✿ ❀

دردپسې دردونه دي
غم پسې غمونه دي

شوې مې شوګیرې نصیب
ورک زما خوبونه دي

چرته د ې د زړهٔ طبیب
چرته علاجونه دي؟

راشه اوس وفا او کړه
کړي دې لوظونه دي

بل پهٔ درد چې درد نهٔ کړي
دا د کاڼي زړونه دي

نهٔ یم قلم یار شاعر
خوښ زما شعرونه دي

ږيره دې سپينه شه چې زوړ شې کنه!
دې دنياګۍ ښځه به مړ شې کنه!

د ځان سودا باندې سوړ شوې نه يې
چې مونږه خرڅ کړې بيا به سوړ شې کنه!

نا جوړو درد به هله اوپيژنې
چې روغ صحت باندې ناجوړ شې کنه!

لالچي تل دولت ته داسې وايي
دولته ته به چرته کروړ شې کنه!

د قلم يار پرهر زړګيه
چرته به خدائے د پاره جوړ شې کنه!

مــــئ را ګـــــوره مــــرۀ داســــــي
ســــوځي مــــي بیــــا زړۀ داســــــي

تــــــل بـــــئ دا ځــــواني نـــــئ وي
مــــــونږ بــــــئ وو زاړۀ داســــــــي

ګیـــــډه بـــــئ دي غټــــه شــــــي
مـــئ کـــړه ډیـــر خـــواړۀ داســــــي

غـــــږ مــــــي اشــــــنا نــــــئ اوري
وي لکــــــه کاڼـــــــئ داســــــــي

وړے قلــــم یــــار نـــــئ یــــــم
خـــوئ مـــي دے مــاړۀ داســــي

دا دې څـــومره ډېـــر الفـــت کيـــږي لګيـــا دے
ســـتا د حســـن ډېر صـــفت کيـــږي لګيـــا دے

چـــې پـــهٔ زړهٔ يـــې وي يـــوه، او پـــهٔ خولـــهٔ بلـــه
بـــس هـــم دا منافقـــت کيـــږي لګيـــا دے

د دې ملـــک خزانـــه ډکـــه تـــرې نـــه نـــهٔ شـــوه
دلتـــه څـــهٔ رنـــګ تجـــارت کيـــږي لګيـــا دے

دا وطـــن خـــو امانـــت د پـــاک الله دے
دې وطـــن ســـره خيانـــت کيـــږي لګيـــا دے

بـــس غريـــب بـــهٔ پکښـــې پـــړ شـــي ورتـــه ګـــوره
فېصـــله د عـــدالت کيـــږي لګيـــا دے

هغـــه څـــهٔ چـــې تـــهٔ يـــې غـــواړې قلميـــاره
فېصـــله خـــو د قســـمت کيـــږي لګيـــا دے

# عزیزالحق ملنګ

خپل نوم عزیزالحق، تخلص ملنګ او د پلار نوم بهاول حق لري موجوده پته محله بلال تاؤن کلے چلوزیارت ډاکخانه بلي ټنګ تحصیل و ضلع کوهاټ مستقل پته محله و کلے خلان ډاکخانه و تحصیل هنګو ضلع اورکزي خیبر پښتون خواه

زمـــــا ژونـــــده بـــــې قـــــــراره
مســـــتي څـــــهٔ وي بـــــې لـــــــهٔ يـــاره؟

پـــــــهٔ قـــــرار مـــــې يوســـــئ
د جانــــــــان د کـــــــور پــــــــــهٔ لاره

چـــــې يــــــې ميـــــــنه وي رښــــتوني
څــــــهٔ بـــــــهٔ يــــره کـــــړي لـــــهٔ داره

څـــــهٔ پـــــهٔ فـــــن دې ســــره وران کـــړل
وروړ د وروړ ســـــــــــــره اغيـــــــــــاره

د نغمــــــــو دوران دې تېـــــــر شـــــــو
يـــــهٔ ســـــــــتاره يـــــهٔ ســـــــتاره

ســـــتا ملنـــــګ نـــــه چـــــې ســــاه وځـــي
يـــــهٔ دمـــــه بـــــهٔ شـــــي لـــــهٔ کــــاره

❀❀❀

ستا د یاد زخم مې تول وجود کښې خور دے
حال وئیلے نهٔ شم یاره زړهٔ مې سکور دے

پهٔ کوم جرم مې د مرګ تختې لهٔ بیایې
ګناه اوښایه د کومې ګناه تور دے

داسې کور نهٔ وینم غم نه چې اوزګار وي
کابل جان نه تر اټکه پرې بل وور دے

زړهٔ مې راشه کهٔ یې ګورې د کتو دے
ساه مې وځي خو نظر مې ستا پهٔ لور دے

څوک چې سپک ګوري عزیزه دین اسلام ته
هغه قوم د هغه وخت سره نسکور دے

❀ ✿ ❀

✍

نـه زه بـــه تهول عمر زړه چود يه پرد بسي کوومـه
نـه زه به تهول عمر پـه وور کښې زندګي کوومـه

نه خو زما پـــه زړه کښې خپل څه ارمانونه شته!
نـه زه بــــــه تـل د بـې ضـميرو غلامـي کوومـه
ښه جـي !زړه تـه وايـه چې څه اوکړم څه پکـار دي
کـه جـي ازاد دې کړمـه خپله مـان مـاني کوومـه
نا جي حرام نــه کوم نا جـي داسې وږے ښه يم
نـا جي بس مړ دې شمه ولې بـې ايمـاني کوومـه؟
تــــه ازادي لمانځـه ازاده مبارکــــــه دې شــه
زه بـه زندان زندان مـاحول کښې شـاعري کوومـه
زمــا د لوړ فکر خاونده چې څـه غم او نه کړې
تـر څـو چې سـاه لـرم تـر هغې بــه څـوکي کوومـه

تــــه لـوفري کـوه لـوفره سـتا دوران د ے کنـــه
زمـــا مـودې کيږي چې خپــــله ملنګي کوومـه

❀❀❀

واېـه واېـه سـتمګر بـــۀ پـــۀ کــوم حـــال وي
بــې لــۀ مــا بــۀ چــې خفــه کــۀ بــۀ خـــوشحال وي

تــا پــردي وطــن کښــې خپـــله ځواني خــاک کــړه
پرد ېسـي خــو یــوه میـــاشت وي یــا یــو کــال وي
کــۀ ژونـدي وي پــۀ ژونـد څـــۀ چــې وي غـافلــه
چـــې بېـــدار نـــــۀ وي د مــړو پـــۀ مثـــال وي
چـــې یـــې درد او غـــم د خپلـــه ســـــره تیـــر وي
د بـــل درد لـــره د هغـــه ســـــــــړي خیـــال وي
دومـــره کبـــر د انســـان ســـره ښـــۀ نـــــــۀ وي
کبـــر ژنـــو اخـــــېر کـــــــبر لـــه زوال وي
حـــج عمـــره دې پـــۀ قســـم کـــۀ تـــرې نـــه خـــلاص کـــړي
چـــې پـــۀ لاســـو کښـــې دې بـــل د برخـــې مـــــال وي

پـــۀ معیـــار چـــې د لفظـــونـــو څـــوک خـــــــبر شـــي
هــــــــر یـــو لفـــظ یـــې ملنګـــه د کـــــمال وي

✍

څـــــهٔ نــــا څــــهٔ خـــواري کـــــوه
رب تــــــه ســـــــوال زاري کـــــــوه

ورک دي شـــــي غمونــــــه يـــــــار
عشـــــق کــــوه مســــتي کـــــوه

مــــــهٔ منــــــه د نفـــــس ګلــــــــه
عشـــــــقِ الهــــــــي کــــــــوه

کبــــــر چرتــــــه او نــــــهٔ کــــړې
خپلـــــــه عاجـــــــزي کــــــــوه

زهٔ ملنـــــګ نـــــا پوهـــــه يـــــم
ربــــــه تـــــــهٔ معــــــافي کــــــوه

❀✿❀

## عبدالوارث افغان

خپل پوره نوم عبدالوارث، تخلص افغان او د پلار نوم ملا سیف الدین لري موجوده و مستقل پته محله فیروز اډه کلي نوي کیمپ سرانان ډاکخانه نجیب بک ډپو تحصیل سرانان ضلع پشین بلوچستان

# کلام

لالیـــه راشـــه څـــوک مـــو هېڅکلـــه پخـــلا نـــهٔ پریـــږدي
مـــرګے ظالـــم د ے تـــر قـــیامته مـــا او تـــا نـــهٔ پریـــږدي

تـــنکي ګلونـــه قـــتلوي شـــور تـــه بـــورا نـــهٔ پریـــږدي
زمـــا بـــې وســـه ګـــران وطنـــه ســـتا ښـــکلا نـــهٔ پریـــږدي

جـــوړه لاســـونه کـــړه پښـــتونه د خپـــل وروره ســـره
یـــهٔ د نفـــرت پـــهٔ رنـــځ بـــیماره تـــا دنیـــا نـــهٔ پریـــږدي

ښکـــلي اول پـــهٔ نـــاز ادا د خلقـــو زړونـــه یوســـي
پـــس لـــهٔ هغـــې نـــه بیـــا پـــهٔ تـــندره کښـــې رڼـــا نـــهٔ پریـــږدي

افغـــانه مـــهٔ کـــوه نظـــر د چـــا پـــهٔ تـــورو ســـترګو
زړهٔ بهٔ دې اوخوري بیـا پـهٔ شـونډو دې مسـکا نـهٔ پریـږدي

❀ ✿ ❀

تېـنـډه :تندي

# کلام

ازادي مـــو نشـــته خـــوار نصـــيب زمـــونږ دے
پرهرونــــه ګرځـــوو ورک مـــــو طبيـــب دے

خوشـــحالي ځکـــه ښـــکاره نمـــانځلے نـــۀ شُـــو
هـــر دښــمن راتـــه ښـــو پـــۀ شـــان قريـــب دے

دلتـــه هـــر ســـړے خپلوانـــو ازار کـــړے
چاتـــه پتـــه ده چـــې کـــوم ســـړے منيـــب دے

دا اظهـــار کـــؤلے نـــۀ شُـــو چـــې يـــار ګـــران دے
ځنګـــه اوو ايُـــو بـــس تـــول مـــاحول رقيـــب دے

زۀ افغـــان چـــې دا حـــالات ويـــنم خفـــه شـــم
پـــۀ وطـــن کښـــې مـــو د کـــار ســـړے غريـــب دے

# کلام

پاتې مې لۀ تاسره خبرې دي
ورکې را نۀ ډېرې ملغلرې دي

غم دې پۀ زړګي را ته پنډ کړے دے
ځکه مې پۀ خولۀ د غم سندرې دي

یو خواه اسلامیت، بل خواه پښتو، حیا
دا خو د پښتون د بدن زغرې دي

اوس را باندې غېږ عاطفه نۀ کوي
غوڅې د الوت د خیال وزرې دي

مۀ راوړه افغانه زۀ یې نۀ غواړم
پاس د غرو سرونو کښې ګورګورې دي